# ORDSPRÅK OCH UTRYCK PÅ PASHTO

## د پښتو ژبي انتخابي متلونه

اول سلام بيا کلام !

ادب له بې ادبه زده کيږي . ادب له بې ادبه زده کوه!
ابا اوبو يو وړ ، ويل ابا څه کوې چه غاړي غرونه ئې يو وړه.
ابا مه ګوری ، خورجين ئې ګوری.
اختر پټ مېړه نه دی.
آخير عمر د خوارۍ دی.
اوښ په غلبيل نه درنيږي !

ازمويلی څوک نه ازمويي ! ازمويلي بيا مه ازمويه !

ارزان بې علته نه وي ګران بې حکمته !

ازاري ته په ازار ويلو ګناه نه شته!

اس مې در کړ خو پر سپربږې به نه!

اس چې خداى خواروي نو يې يابو کړي!

انسان تابع د احسان!

راټولوونکی: رحمت الله سروري

انسان تر کاڼي کلک تر ګـــل نازک!

اوباز یم خو بې ګدره نه ګډېږم !

اوبه په اوبو ، شیدې په شیدو!

اوبو اخیستی ځګ ته لاس اچوي!

اوبه په ډانګ نه بېلیږي !

اوبه چې تر سر تیرې شي ، څه یوه نېزه څه دوې نېزې!

اوبه د سر له خوا خړیږي!

اور او اوبه نه سره یو ځای کیږي !

اور ته خپل او پردی یو دي !

اور د خپلې لمنې لګیږي !

اور ته وچ او لانده یو دي!

اوړه ئې یو موټی نه شته ، شل یې تنورونه دي!

اوړه یو موټی نه لري ، تنور یې پر بام جوړ کړی دی!

اوړه دې پر اوړه، منت دې پر څــه !

اوړه که تمام دي، پیمانه خو یې پر ځای ده!

اول میرانه په سیالي وه، اوس سپیتانه په سیالي ده!

اوښ ته یې ویل غاړه دې کږه ده ، ده ویل کوم ځای مې سم دی.

راټـولـوونـکـی: رحمت الله سروري

اوښ که هر څومره لوی دی، الوتی نه شي.

اوښ که غټ دی د شیدو تمه ترې مه کوه!

اوښ له باره ولو ید ، خو له بړ بړه ونه ولوید .

انبار دي وي ، خروار دي وي.

آدم خان دي په خیال ګوروان درغلی دی.
ارمان چي وروستی عقل اول وای..
ازمایښت اول په کال اوتلین(sekel )و ، اوس دم په دمه دی .

آسان ئې نعـلول چنګوښو هم پښې پورته کړې.
آسمان چي غوریږي ، دومره نه اوریږي .
آس ششنی ، خر رایي ، غـاتره نوري بلاوي وایي.
آس که ټکنی دی میدان لنډنی دی.

آس ئې و هغو ته ورکړ چي د تانګ د ټرلو یې نه وه.
اصیل خطا نه لري ، کم اصل وفا نه لري.
اصیل خوري نه خاوري کیږي.
اصیل کوټور ، کم اصل خپرور .
آغا کور نسته د بي بي ببره نسته

امانت مځکه نه خیانتو ي.
آموخته خور بلا خور.
انا مړه سول، تبه ئې وشکېده.

انسان نه دی ، هغه چي د حیوان څخه ګیـله کوي.
اوبه چي تر غاړي ورسیږي ، زوی تر پښو لاندي کیږي.

راټـولـوونـکـی: رحمت الله سروري

اوبه د لویه سره خړي وي.
اوربشي څه په ځمکه کي څه په جوال کي ؟.
او راو پنبه نه سره یو ځای کیږي.

اوراو اوبه نه سره یوځای کیږي.
اوړه ي ي یومُت نشته سـل ئي تنورنه دي .
اوسپنه په اوسپنه ماتیږي .

اوښ په غلبېل نه دریږي.
اوښ په خپلو متیازو ( بولو kiss) کي ګوډیږي.
اوښ تر پله bro لاندي نه سي پوټېـدلای .
اوښه ، هر څه دي بي هوښه .
اوښ ته ئي ویل لوبي وکړه ، ده جړونګان له بیخه وکښل.

اوښ ته ئي ویل دا مغزی دي ولي کوږ دی ؟ ده ویل ړوندشی کوم ځای مي سم دی.
اوښ چي لوي بار وړي خوارک ئي ځوز taggar دی.
اوګره په تلوار نه سړیږي.
اوګره ځیني توې سوله ، ویل په نصیب مي نه وه.
اول ځان پسي جهان!
اول حق د ګاونډي دی.
اول زده کړه ، بیا کوزده کړه.
اختر پټ مبړه نه دی !
اوبه په ډانګ نه بیلیږي .
انسان له خطـا سره ملګری دی .
اوبه هم د لوښي پر مخ چنبلي کیږي .

........................................................................................................................

بـــــا بـــــا به ویل ادي به منـــل!

راټـولـوونـکـی: رحمت الله سروري

بې وخته مېلمه ئې له خپله بخته خوري.

بې مېوې ونه څوک په ډبره نه ولي.

بې مزده کار مې نه زده ، چې مزد راکې کار مې ښه زده.

بې ما دې شـــــــــل نه کړه!

بې کسه بدي نه شي پاللای!

بې کاري د بدبختۍ زانګـــــــو ده!

بې کاري لنګيږي، خواري ترې زيږي.

بې عقل جمال(ښايست) خوښوي، عاقل کـمـال!

بې عقل دونه(دومره) په بل نه کوي ،لکه په خپل ځـــــان!

بې زحمته راحت نه شتـه!

بېزاره دي د خيره، خو سپی دي درګرځوه(ګرزوه)!

بې ډوله مـه ګـــــــډېږه !

بې ډوډۍ اوسه ،بې کوره مه اوسې!

بې چرګه به هم سبا شي!

بنده را شه د خدای خپل شه ،لکه پر ځان هسې پر بل شه.

بنده اريان(حيران) خدای مهربان!

بــــــل تـه ګـوته نيول کيږي ، او ځان ته نــــــه!

راټـولـوونـکـی: رحمت‌الله سروري

بــــلا وه او برکت یې نه وو.

بلا له خپلي لمني پورته کیږي.

بـــــــــــــــر یې شتــه، برکت یې نه شته.

بریت یې ښه بریت دی، خو په خوشي شونډه ولاړ دی.

برخي وېشه ،مېړونه ګوره.

برخي ټولي ازلي دي، نه په زور نه په زاري دي.

برج دي تر اسمانه،سپی دي له لوړي مري.

بربنډ(لڅ) له لاري اوړي، او وږی له لاري نه اوړي.

بډای(خان) یې له خواره ګټي، او خوار یې له بډایه.

بد مکوه، بد به نه وینــــې.

بــد یاران په بده ورځ په کاریږي.

بده ورځ کله کله وي.

بد مه را سره کوه ، ښه دي نه غواړم.

بد عادت چي زورور شي ، عقل مرور شي.

بــد زوی نه زوی!

بــد په بلا اخته ښه دی.

بد به دي زړه په لرم ،سـلام به دي خوله لرم.

باغ (بڼ) که باغوان لري ، چغال هم خـــدای لري.

باغ چې لاښ شي، باغون يې خوار شي

باز چې هر څومره خوار شي ،چو نګښې نه خوري .

بازار ته څه وړې، ويل طالع.

بــــاران وشـو، چاکونه پټ شول.

بابا دي خدای وبخښي مګر د سها ر په لمانځه کې سُست و.
بابا ګيلې کوي ، ادې پېرې کوي.
بارونه ئې تړل ، اوښانو ژړل.
بـــارئې په شا نه شو وړای ، يو لرګی يې بل پر کښېښـود.
بـــاغ که باغوان لري ، چغال هم خدای لري.
بـــاغ چي پوخ سي باغوان کوږ سي.
بـــام ئې لوړ ، کور يې ډګر.
بــد بانجڼ بـــــلا نه وهــي .

بــد په ســــلام نه ورکيږي.
بـــد تربور kusin په بد ځای کي په کاريږي.
بــد مه راسره کوه ښه دي نه غواړمه.
بــد مه کوه بد به نه وينې!

بــــده ماندينه تنګه موچڼه ده.
بــرخي ټولي ازلي دي نه په زورنه په سيالي دي.
بــرخي وېشه مړونه ګوره.
بــلا بيده ښه وي ، نه ويښه.

بـــل ته څـا /کوهي مه کينه ، چي خپله پکښي لوېږې.
بــل من چپه شـــو!
بــنده حېران خدای(ج) پر مهربان.

راټـولـوونـکـی: رحمت الله سروري

بـنده راشه د خدای خپل شه، لکه پر ځان داسي پر بل شه.
بنده و خپل عمل.

بوچ د اختري خلاص دی.
بیده sovande بل بیده نسي ویښولای.
بې زحمته راحت نشته!
بېزاره دي له خیره یم، سپي دي در ګرځوه.
بې ښځي سړی ښه دی نه په کورکي همېشه جنګ.

بې عقل دونه په بل نه کوي لکه په ځان.
بې ګودره چي ګیدېږي، خود بې سیند flod وړي.
بې ما دي شل نه کړه!

بې چرګه به هم سبا شي.
بې عمله علم، د بې مېوې ونې په څېر وي.
برج مې جوړاوه، را څه کادانه سوه.
بې زحمته راحت نسته.

---

پاچاهي پاچاهانو لره ښایي، لویي خدای لـــره

پـــاک اوسه، بې باک اوسه!

پر اوښ سپور، سپي وخوړ!

مارنیوونکی د مار له لاسه مري.

پر خره سپور خرځني ورک.

پر خوار مړې(مړي) د قران خـتـم نه کیږي.

راټـولـوونـکـی: رحمت‌الله سروري

پر خوږه مځکه هر وابنه شین کیږي.

پردی زوی نه زوی!

پردی سپی ،په ډوډۍ خپل!

پردی جنګ ، نیم اختر دی.

پردی کټ ، تر نیمو شپو وي!

پردۍ غوښه ،په ځان پوري نه نښلي(مښلي) .

پردۍ موچڼه(بوټ) پر پښه معلومیږي .

پردی مال نه خپلیږي .

پردۍ ډوډۍ تر زرمنه تیږي لاندي ده.

پردي خواږه یا پور دی یا پیغور!

پر ړانده شپه او ورځ یوه ده .

پر ښو تلوار پر بدو تامل!

پاړوګر د مار د لاسه مري.

پر اخُند ښوروا ډېـــره ده.

پخوا له پخوا سره ولاړ.

پر پوست سیکه نه وهل کیږي.

پرخره یوه لپه اوربشي ډیري دي.

پر خره سپور دی خریې ورک دی.

پردی خر په شا زور ور دی.

پردی اور eld تر واوري snö سوړ دی.
پردی زوی نه زوی کیږي.
پردۍ مور نه مور کیږي.
پر سپي هډوکي ډېر دي.
پر کورنګ نیمن دانه ډېره ده.

پر ګازره نه یم پرخرپ یې یم.
پر لخه خبټه یې ملا ترلې ده.
پر لوړه وخیژه ځار وکړه، خلک چې کړي هغه کار وکړه.
پر ملا یې لمبول دي بخښنه ئې پرخدای(ج) ده.
پرهغه دي خدای مېـلـمـه که چې مېلمه یې نه وي لیدلی.

پڼ مي که،نو مړ مي که.
پز پرې کړي که شرم درلودای، د چړې نوم به یې نه اخیستلای.
پیشي ته دي خدای وزرنه ورکوي، که یې ورکی نو د چغوکو تُخم به وباسي.
پښتون نه دی چې د نوک جواب سوک ورنه کړي.
پښتون له غیرته ځان اورته اچوي.
پښو پښو ارمان کاږی غالیې ده.
پښې هلته ځي چې زړه ځي،
پک تر پکه پوري، نو نه چې ماغزه یې ښکاره وي.
پک نه پرسر تار لري، نه په چا کا ر لري.
پکــه نه سر(وښتان) لري نه ئې په چا اویي.

پلار دي سپرو مړ کړکه پلو؟ویل څه یې کوم زما د ښې ووت..
پـنډ یــې مه ګوره، ایمان یې ګوره.
پنځه ګوتي سره یو نه دي. پنځه ګوتي توپیر سره لري.

راټـولـوونـکـی: رحمت الله سروري

پنځه ګوتي په خوله نه ننوزي.
پور پر غاړه ، مېږ مرداره.

پور چي ترسلو تېرشو ، وچه مه خوره.
پوره! ورک دي کړه دوه کوره.
پوه سړی ترخپلي کمبلي پښې نه تېروي.
په اوبو څوک نه چاغيږي.
په بازيو کي تل بنګړي ماتيږي.

په بل وطن کي د ښو کښت کوه تېرېږه.
په پردي کو رکي سل مېلمانه هيڅ نه دي.
په پردي پرتاګه ځان نه پټېږي.
په تياره کي خپل سېوری هم نه ښکاريږي.
په جار جار دي مي ښه نسته ، ګېډه مي مړه که.
په څاڅکي څاڅکي droppar ډنډ جوړيږي.
په خپلو خپل ، په پردو پردی.
په خپله کوڅه کي سپی هم زمری وي.
په خره ئې وس نه رسيده پر پالانه sadel يې را واچول.
په ژړا پسي خندا ده!
په خواره ځمکه کي هر وابنه شين کيږي.
په خوله خوږ ، په کونه کوږ.
په دوبي چيري وې چي په ژمي سيوري کوې.
په دنيا باور مه کوه ، ګاهي لوړ ده ګاهي ځوړه.
په درنو دروند په سپکو سپک.
په ډيري کې يې خوره ، په لږ کې يې وبشه.
په ډيرو ليوني خوشحاله دي.
په رنګ ښايسته ، په عمل خوار خسته.
په ړندو کي چپک اغا دی.
په زحمت پسي راحت دی.

راټولوونکی: رحمت الله سروري

په زهيرو زړو ګوتي مه واهه .
په ژرنده کي دي شپه شه د زوم کره دي مه شه.
په ساعتيري کي تل خوابدي پېښېږي.
په سپکو سپکتيا ، په درنو دروند تيا.
په سپي زوی ، تل مور او پلار ښکنځلی وي.
په سلو وهلی ښه دی ، نه په يوه پړ.
په شلومبو که چاغېدلای ، غړکه به چاغه سوې وای.
په شيدو سوی مستې پوکي.
په شمله دي شوم غلطه ، کور ته چي دي راغلم يوه اوښه بله کته.
په ښادې دي ښاده نه شوم ، په غم دي تور تلبه سو م.
په ښه پردي خپلېږي ، په بدو خبرو خپل پردي کيږي.
په غرمو يې وګټه ، په سيوري يې وخوره.
په غرمه کي اور بليږي، سورنا چي ورته ګډيږي.
په غم پسي ښادي ده.
په غمو کي د انا غم غيم.
په کور کي يو ټک دارو نه لري ، پر ځان ئې نوم غمباره ايښی دی.
په کور کي نه کوک نه پياز ، اربړی د وازګو.
په ګرځېدو نه مري ، په کښېښستو مري.
په ګورم کي ئې غوا نه درلوده ، د ګوروان سر يې ماتا وه.
په ګوړه ويلو سره خوله نه خوږيږي.
په مځکه کي سيوری نه لري ، په اسمان کي ستوری.
په ناسته غُمبر نه کيږي.
په نن پسي سبا سته.
په وهلو څوک نه سميږي.
په هر شي کي ښه او بد شته.
په هغه دي خدای مه واهه چي وهل يې نه وي کړي.
په هغه وياله کي چي اوبه تللي وي بيا به راسي.
په يوه استنجاء لمونځ نه کيږي.
په يوه چپلاخه/څپېړه د سلو مخ خوږيږي.

راټـولـوونـکـی: رحمت الله سروري

په یوه ځین کي دوه کسه نه ځایږي.
په یوه لاس کي دوې هندوانې نه اخیستل کیږي.
په یوه موزه کي دوې پښې نه ځایږي.
پیاز دي وي په نیاز دي وي .
پښتو نسته ، شرم وغره ته ختلی دی .
پېـري ته غزنی څه دی.
پیر نه الوزي مُرید یې الوزي.
پیل/فیل که مړ شي ، یو زنګون اوبه یې لا په نس کي دي.
پیل/ فیل چي ژوندی وی یو لک hundratusenدی ، چي مړ سي دوه لکه دی

پر اوبن به سپور یې سپی به دي وخوري .
په یوه ګل نه پسرلی کېږي .
په جنګ کي ګیـلې نه کېږي .
پښه خپله پڼه / بوټ / مُچڼه پېژني.

په شرم دې هغه وشرمېږي ، چې پرې پوهېږي .
پښې له بړستنې / کمبلي سره سمې غزوه

پور چي ځنډني شي ،خوړنی شي.
په یوه بوټ کي دوې پښې نه ځایېږي .
په شیدو سوی ، مستې پو کي .
پلټونکی پیداکوونکی دی .

پیاز دې وي ، په نیازدې وي .

په حلوا ، حلوا ویلو خوله نه خوږېږي .
پلار ګټلې ته زوی اسانه دي .
پردی کټ تر نیمو شپې وي .
په پښتو کي به پښتې ماتوي .
پټکی/لنګوټـه چې له سره ولوېږي ، او پر وړو تم شي هم نه دی لوېدلی .

راټـولـوونـکـی: رحمت الله سروري

په تیاره کې ه رڅوک ډاربږي ، څوک ناري وهي ،څوک يې نه !
پزه پرې کړي که شرم درلوداې ، دچرې نوم به يې نه اخیستلاى .

تارو يو مرغه دی ، هر چا ونیوی، د هغه دی.
تازيان چي هوسۍ نیسي د هغو خولې توري وي.
تازي چي تر تازي پاته شو لکۍ يې غوڅه پرې که.

تر اوبو د مخه ګاولي/بوټونه مه کاږه .
تربور ته بې وروره مه شې ، ورور ته بې زویه ، پلا ر ته بې موره.

تر بې عقل خپل/دوست ، هوښیار دښمن ښه دی.
تر پښو لاندي مځکه مه ګوره ، لیري واټن ګوره.

تر تیاره برخه مه تېرېږه.
تر خوړلو يې اُمید ښه دی.
تر دې يې تېر ، هغه نور يې ستا ګنډير gift .
تر رمې يې سپي ډې ر دي.
تر زرین پوښه پیاده ، د غوايي سپور ښه دی.
ترور/عمه نیمه مور.
تر يوې خرما دوې وڅکې ښې دي.
تر مز يې شکردانه ډيره ده.
تر کورني سړي ، ګښته خر ښه دی.
تر شیر يې په ښوروا خوشحاله دی.
ترې په خوب اوبه ويني.
تر مړه زمري ، ژوندی ګېدړ ښه دی
تر سړه ګټه ترت تاوان ښه دی.
تر ورخ چي اوبه تېري شي ، بېرته نه را ګرځي.
تروېش يې په چور خوشحاله دي.
ترياکي دوه په ایکي .

تو ، په شونډانو کيږي.
تر ببکاري ، ببګاري ښه ده.
تږی سپی يې پر کور نه اوبيږي.
تشه لاسه ته دښمن مي يــې.
توپکه gevär مه دي خوله سه ، مه دي کونه.
ته ښه سړی ئې د پلار دي <u>دامانه</u> <u>svårdom</u> کړی.
ته کښته سه ، آس ماته راکه.
تېغ په جوهر خوارک کوي
ته مي بزې وهه ، زه به دي روژې وهم.
توزنه هيله د خدای د کرمه وتلی ده.
توتکۍ وای بې آزاره ده ، ويل د چمن د چنجيانو څخه پوښته وکړه.
تور د تورو دی ، ژيړ د نجونو دی.
تورسپی د اوزګړي په بيه خرڅيږي.
توري چرګي سپيني هګۍ اچوي.

ته هم اسيوان زه هم اسيوان ، ته وا ماته وا غزل ووايه. <u>اسيا</u><u>mölla</u>
تر بور مړ کړه ، لمر ته يي مه اچوه.

توکړي ناړې ببرته نه اخيستل کيږي .
تماشا بين د نښې منځ ولي .
ترچاړه لاندي هم ساه سته.
تيږه راځي ،راځي دخوار پر سر لګيږي .
ته زما دارو ، او زه ستا دارو!

جولا سوی نه يې ، بيا نېچې غلا کوې.
جنګ چې سوړ سو ، ميری تود شو.
جنګ چې نه کوې لويه ډېره اخله.

ټمبه ته يو باد هم غنيمت دی.
جنګ په وسله ، ننګ په غله.

راټـولـوونـکـی: رحمت الله سروري

جنګ پر خاوره ښه دی ، نه پر شېدیاره.

.........................................................................................................................................................

څــراغ چې ئې په کور کې لګیږي و صحرا ته څه اړتیا دی.
څمڅه/کاچوغه په ځان غره سوه ، چې په دې اوګړه سړه سوه.
څوک مه وهه په ګوته ، تابه نه ولي په لوټه.
څوک وایې چې زما د غړکې خوند بد دی.
څوک وائې څه وخورم ، څوک وائې په چائې وخورم.
څو یې ونه شاربې کوچې نه کوي.
څه توره تېره وه ، څــه انا ورسته وه.
څه خوره ، چه پرېږده.
څه چې په کټو کې وه ، هغه په څمڅۍ/ کاچوغه کې را پورته کیږي .
څه دې کول ،چې پلار او نیکه دې کول.
څه راوړه ، څه به یوسې.
څه زه بد وم ، څه دښمنانو لاس راپسې ټکوهل.
څه ژرنده پڅه وه ، څه غنم لانده وه.
څه لاس تر مینځ ، څه غر.
څه یې کوې ، چې نه یې کوې
څه چې کرې هغه به رېبې .
څه غنم لانده وه څه ژرنده پڅه.

.........................................................................................................................................................

ځان ته ښه وایې ښه نه کړي ، داڅه وایې دا څه کړي!
ځنګل چې اوراخلي ،وچ او لانده ټوله اوراخلي.
ځوان پر غړي زوړ پر لري mage .

ځان ساتلی ښه دی ، دښمن وژلی ښه دی.
مـځکه هغه سوځي چې او پرې بلېږي.

حیادار حیا کوله ، بې حیا ویل زما څه بېریږي/ ډاریږي.
حال منصور وایه چې سر ئې په دار شو .

چا په کلي کې نه پرېښود، ده ویل اس مې د ملک کره وتړی.
چا په ورا کې نه پرښود . ده ویل د مخ اوښ زما دی.
چا په قافله/کاروان کې نه پرېښود، ده ویل د مخ اوښ زما دی .
چاړه چې د سرو زرو شي ، څوک یې په نس کې نه وهي.
چرت یې واهه خورجین یې بایلو.
چرسي زوی نه زوی.
چرګ چې ځوان شي پر بام ورو ورو ځي.
چرګه مې ناجوړه ده بهانه مې ورته جوړه دي.
چرګه چې ببره شي ، دا هم بده جناوره شي.
چرګ د مالګې په څکلو څه پوهیږي.
چغال ته انـګـور نه رسیده ، ده ویل دا تروه دي.
چغال پر نعمت شکر کېښ چرګ یې د خولې ووت.
چه اړسې، وخره ته وای بابا.
چې اوبه وي تېمم ته څه حاجت دی ؟
چې اوسې په خوی به د هغو شې .
چې بابا ژوندی و ، هلته ادې وه .
چې ایمان وي د مرګه څه وېره/ببره ده.
چې باد نه وي وني نه ښوري.
چې هوړه vitlök و نه خورې د خولې دي بوی نه ځـي.
چې باد وي د پاسه ، باران ئې سم دلاسه.
چې باد ئې وي د کښې ، وریځې ځغلي لکه بزې.
چې بابړ یې زما په کتاب پړي .
چې بخت یې تور شي دښمن ئې د پلار کور شي.
چې بد کوي ، بد به مومي.

چي بد غواړي ، پر بدو به واوړي.
چي فال ګورم ښه راځي ، چي یار ګورم نه راځي.
چي پر لوړه ګرځي ، پر ژوره پرزي.
چي په ځان کي ويني ، په جهان کي ويني.
چي په ناز لويږي ، په زيار زړيږي.

چي په خپله يې وخوري غول به سي ، چي بل ته ئې ورکې ګل به سي.
چي په مرګ يې ونيسې ، په تبه به راضي شي.
چي مېلمه ئې سوړسک خوري ، کوربه به څه خوري ؟.
چي په ډېر يې واخلې ، په لږيې مه خرڅوه.
چي په ډله کي دوست نه وي ، مه پکښي کښېنه

چي په نيمه شپه بېداريې ، که غل يې زما يار يې.
چي فيلان کوي ، فيلخانې به هم کوي.
چي فيلان لرې ، دروازه به لوړي ايږدې.
چي تر ملکه دي کړه ، نو دي ورکه کړه.
چي تيار وي ، هغه يار وي.

چي تېر شو ، هغه هېر شو.
چي چرګ نه و ، آذان چا کاوه ؟
چي څوک دي ونه پوښتي مه ګډيږه.
چي حج حج لرې ، يوخت به حاجي شې.
چي خان يې په ياران يې ، چي ياران نه وي توري خاوري د بيابان يې.

چي خر نه لري ، خر نه ارزي.
چي د هلکه وفا غواړې ، لکه د خره چي کيميا غواړې.
چي د بنګو بتېل زدويې ، اخير به بنګي شي.
چي د ګېډري په جنګ وزې ، تايه د زمري نيسه.
چي در ئې نه کړم ،آزار دي پر څه کړم .

راټولوونکی: رحمت الله سروري

چي دود نه وي هلته سود نه وي.
چي ډب نه و ي ادب نه وي.
چي ډول دي وي په څنګ ، د وهلو دي څه ننګ.
چي ډير وايي ـ لږ خيژي.
چي ډيرى شي ، مردارى شي.

چي راځي د بل د كوره ، پر تا به شپه شي تكه توره.
چي زر وي ـ زارى د كومه ده.
چي زما سره ځي ، تل به توري وڅكي خوري.
چي زيار كاږي ، ګټي د هغو دي.
چي ژرنده ئې ګرځي ، بلا ئې پر ځي.

چي ژوندى وم ښه مي غواړه ، چي مړ سوم مه راپسي ژاړه.
چي سپى د دنيا نه شي ، ددنيا خاوند به نه شي.
چي ستا د كوره راځي ، په غلبيل كي دي راځي.
چي ستړى نه شى ، موړ به نه شى.
چي سر وي خولۍ ډيري دي .

چي سر دي نه خوږيږي داغ مه پر ايږده.
چي شپه ئې ترمينځ وي د هغي بـــلا مه بېربېره.
چي ښه هلته دي شپه .
چي طلب يې كوې پرپېښ به شې.
چي عقل نه لري ، پر كور بې تل غم وي.

چي غل نه يې د پاچا مه بېربېره.
چي غل نه تښتي ، مل دي وتښتي.
چي غواړې ئې ، پروا بې وړې.
چي غوټه په لاس خلاصيږي ، حاجت غاښ ته نشته.
چي بد غورځي هغه بد پرزي.

راټـولـوونـكـى: رحمت الله سروري

چي کوچنی وي پر پښو ځي ، چي لوی شي پر اوږو ځي.
چي کوچنی ونه ژاړي ، مور تی نه ور کوي.
چي کرې هغه به رېبې.
چي کلی په نامه لري ، يو خوی تر نورو ښه لري.
چي ګړنګ مي څڅېده ، چي خدای راکړي ستا يې څه ؟

چي لري دي لري يې ، لږي دي لږي يې.
چي لږ خوري هغه تل خوري ، چي ډېر خوري هغه ګنډېر خوري.
چي لوی غاپي ، کوچنی تراپي.
چي له خدايه پټه نه وي ، د بندګانو یې ولي پټوې.
چي د ياره وايې ، دځانه وايي.
چي مربی لری ، مربا خوره.
چي مړونه وي هلته کورنه وي.
چي مړ شو هغه پړ شو.
چي مشر يې ساوڼ وي ، لښک ريې ګوزاوڼ وي.
چي مشر يې وي سپی ، د کشر يې څه کمی.
چي مشر يې غمبر وي ، اختر بې ماذيګر وي.
چي ملا وايې هغه کوه ، چي ملا کوي هغه مه کو ه.
چي مور لري ادکه ، په صفت به يې واده که..
چي مور مېره سي ، پلار پلندر سي.

چي نغده دي وليدل څنګه دي وخندل.
چي نه کوي حبيب ، څه به وکي خوار طبيب.
چي نه کار په هغه دي څه کار ؟
چي نه دي وي د موره داسي مه وايه چي وروره.
چي نسې تلای وابه دي خلم ، چي نه ځې څه در و کم.
چي نه غواړم ، هغه مه راپېښوې.
چي نه مرم لا به واورم.
چي نه منې د يار پندونه ، لاس به نسې پر سرونه.

راټولوونکی: رحمت الله سروري

چي واورې وايه ، چي ووينې مه وايه.
چي وخت د ښکار سي تازي ، اسهال سي.
چي وخت د ختمې سي ، د يتيم پزه ويني سي.
چي ولاړ سې تر بلخه ، درسره ده خپله برخه.
چي وويشت نه سي ، خبر به نه سي.
چي وې غواړي په خوله ، نو خورې به يې په څه ؟.
چي هوس دی ، دغو نه بس دی.
چي ئې ياد کړې په وړکتوب ، هېر به يې نکړې په زوړ توب.
چي ئې زده کړې پر پېکی ، هير بې نه کړی پرنګښی.
چي يو واهم ، بل په رنګيږي.

چونه انا راولی ، چي سر ئې په کټو کي پرې کي.
چيري دي واهم ، چيري دي ډب خيږي .

چې چېرې ښه هلته شپه .
چې مړ شي ، هغه پړ شي .
چې زوړ شي ، څه ترې جوړ شي .
چې درومې ،څه به مومې.
چې نه وي آدم خان ،تل به يي مري اوښان .
چې څنګه مخ ،هماغسې څپېړه.
چې عقل يې کم ور کړ ، تل يې غم ورکړ .
چونګښه له ماره سره تله ، په منځ دوه ځايه سوه .
چې چېرې ډب وي ،هورې ادب وي .
چې راشي قضا ړندې شي بينا.
چې يارانه په شفتال و شوه ، نو بيا ګرانه ده .
چرګ دې يم خو حلالوې به مې نه .
چې خوب درشي بالښت نه غواړي ،چې زړه مين شي ښايست نه غواړي!

.................................................................................................................................

راټـولـوونـکـی: رحمت الله سروري

خانده خانده ، ښه کور دي اوډلی دی.

خان صاحب ! یو تار وربښم نه خوړ ، لس زره افغانۍ يې وخوړلې.

خاوره د خُسر د کوره اخيستل کيږي.

خبر د خدای لپاره ، لوږه د ورور له پاره.

خبر ه تر خبري پوري یادیږي .

خبري کي افغاني کوي ، نې پلار نه يې ادې کوي.

خبري زده کړه بيا يې وکړه.

خبري ډيري ، سر ئي يو.

خبري ښې کوي . لکۍ يـــــــــــــــې کږې کوي.

خپل سر په خپله نه خريل کيږي.

خپل عمل د لاري مل.

خپل عبب د اوږو مېنځ دی.

خپل که دي مړ کي ، و لمر ته دي نه غور ځوي.

خپل کور ، یا خپل ګور.

خپل پر تنګسه په کا ر دی.

خپل دا په نس ، د بل دا په وس.

خپل به دي وژړوي ، پردی به دي وخندوي.

خپل به ازارسي بېزاره کيږي نه.

خپل دا مي خپله کې ، که د بل دا مي هم خپله کې.

خپل ځان د ي ساته ، بل ته مه وايه چي غله.

خپل مال تر سترګو لاندي ښه دی.

## خپل وطنه ، ګل وطنه !!!

خپل خپل ، پردی په ډیرو نارو خپل.

خپل خپل وپېژنه ، پردی پردی.

خپله خوله هم کلا ده ، هم بلا.

خپله پښه ، خپله پنه پېژني.

خپله خوله په بل نه وچيږي.

خدای د کراري مل دی.

خدای په رېښتیا خوښېږي.
خدای دحق ملګری دی.
خدای شړلی نه سمېږي.
خدای وهلی د خلګو څخه نه شرمېږي.
خپله لاسه ګله لاسه.
خدای دي په هغو پوښته چي لري يې.
خدای او پاچايې راکوي ، شيخ مير يې نه راکوي.
خدايه لوی مي کې ، لويي را مه کې.
خدايه لويه! ما وساتې بې زويه.
خدای وايې ته حرکت کړه ، زه به برکت کړم.
خر پرلار که ، خپله چار که.
خر په پالانه نه درنېږي.
خر په اته ، کوټې يې په شپېته.
خــــر په وهـــــــــلو نـــــه آس کيږي.
خر نه دی کچر دی ، په پوري د خره سر دی.
خر چي تر خره پاته شي ، غوږ يې پرېکه.
خر چي پردانه مړ سي شهيد دی.
خر چي تر مکې ولاړ سي هغه خر دی.
خر له باره ولوېدی ، دګوزو ونه لويده.
خر و ځان ته حيران و ، خاوند يې بار ته.
خر هغه دی ځـــــــــل ئې نـــــــــوی دی.
خره ته دي خدای ښکر نه ورکوي ،که ورکي د غويو نسو نه به څيري کي.
خره ته ئې ويل زوی دي وشو ؟ ده ويل څه ئې کوم هغه به خپل بار وړي ، زه به خپل

خلګ په ليوني پوري خـــاندي ، ليونۍ په خـــلګو پوري.
خړ سپی د شرمښ /لېوه varg ورور دی.
خوار په خپله خواري نه شرميږي.
خوار تلتک/بړستنه نه درلوده ، چي پيدا ئې کړ ، تر غرمې پکښي پروت و.
خوار کبرجن د خدای دښمن دی .

راټـولـوونـکـی: رحمت‌الله سروري

خوار خدای کړې ، سپی چا کړې ؟
خوار سړی ، ابلک ئې سپی.
خوا ر کبرجن ، زوړ زناکار خدای نه بـښــي.
خواره وړې ، څه به وخورې د سوي دســړی.
خواره بازاري ، هغه ته هغه خواري.
خواره سې مکاري ـ چي هم جنګ کوي هم ژاړې.
خوار ه کې هغه مینځه ، چي د مینځي کونه مینځي.
خواره سې چرګي ـ چي له خیاله مستک نه خورې.
خواره هغه کړې چي ګاللای شي ، بوره هغه کړې چي ژړلای شي.
خواري لوي تخت به زه در کړم ، بخت دي خدای.
خواري د مړو په شا ده.
خواره د رنګه خوړل کیږي.
خوري تخت به زه درکړم ، بخت د ي خپل دی .
خوریې د ماما د میني دښمن دی.
خوري سوړ سک majsbröd تېغ rapa د پلاو باسي.
خوشي خواري ، دلور په لمسي.
خوله په غاښو ښایسته وي.
خوله د ي خپله ، ګل په وله.
خوله په ممیزو/کشمشو مه امخته کوه.
خوله چي اموخته شي ، آس نه دی چي قبضه شي.
خونه که مي وسوه دیوالونه خو ئې پاخه دي.
خېښي په خوښي ، سودا په رضا !

خواره چي مَړه سوه ،نو مړه سوه .
خپله ژبه هم کلا ده ، هم بلا .
خپل عــمل د لارې مــل.
خپل عیب داوړو منځ ، د بل عیب د پارو منځ.

........................................................................................................................

د اهاړ لمر ته خـــر نشي ټينګېداى.
د اوبو خروار دى په ګوته ښوريږي.
د اباسيند نه اوبه غواړې تږى نه يې.
د اوبو نه کوچ اوباسي.
د اوبښ دشا وړى ده.
د اهاړ لېوه دى.
دا څه ډول سړى دى!
داسې دى چې په ژبه خلك څټي.
دا وړى نه شړى کيږي!
د اور سوي په اور رغيږي.
د اغزوtaggar په پولې مې شپه وه.
دا غزو په لښتو يې وهي.
د اوبښ په شا سپوردى.
د اجل نه مخکې مري.
دا ګز دا ميدان.
د بازfalken له ځالې باز پاڅيږي.
د باران نه پاڅي/ولاړشو د دناوې لاندې کښيناست.
د بوسو لاندې اوبه مه تېروه.
د بادام په شان مې زړه سورى سورى دى.
د بيزو پرهار/زخم دى.
د بل په اوږو مياشت ګوري.
د بل په اوږو يې لاس اينبى دى.
دباد په نيلي سوردى.
د باغوان لاس ګل دى.
د باران تور مخى دى.
د بڼو/باغو څښتن په آرامه نه وي.
د پردي زوى نه خپله ړنده او ګوډه لور ښه ده.
د پاچا صاحب باز دى په ډيران چرګوړي نيسي.
د پُخلا دښمن نه ځان ساته.

راټـولـوونـکـى: رحمت الله سروري

د پاچ انزدیکت او ردی .
د انسان مخ دخداي له نوره دی .
د پیشو د وژلو شپه ده.
د بلي ونې سوري ته نیالگی نه غتیږي.
د بل سوری پرې شوی.
د بدو به بد زیږي/ مومي.
د بل په غاړه چاړه تیره کوي.
د انا اوگره ده په څکلو خلاصه شوه.
د انځرگل شوې .
د اولاد بد چاته نه ښکاریږي.
دگوروان پخپله غوا نظر وي.
د پاسه ښه رنگین دی دننه یې زړگی خوړین دی.
د بې‌صبره دې بیخ ووځې‌وایي ما ته یې په لمن کښې واچوه.
د تورې شپې غل دی.
د جمعې مړی شو.
د جیب‌نه اوبا سه پیسې وربانديې وخوره پتاسې .
د خیر په غونډۍ ناست دی .
د خپلې کوټې واورې په بل اچوي.
د خرې‌دومره شیدې دي چې د خپل کوټي یې کیږي .
د خوشحالۍ یاران ډېر وي.
د خپلو سره جنگ دښیښې درز دی.
د خوارې‌کونډې زویه خپلې‌ډوډۍ ژویه.
دا حوض/ډنډpool څو کاسې دی.
د خره په تندي کې محراب نه وي.
د خره مینه لغته ده.
د خوږې گوتې نه نیول کوي.
د خولې نه یې اور پور ته کیږي .
د خوږ لاس غوندې یې په زړه پورې نیولی دی.
د خپل لو نه لور مه پټوه.

راټولوونکی: رحمت‌الله سروري

د خوار ملا په اذان څوك كلمه نه وائي.
دڅپلۍ ګرد ته يې هم نه شې رسېداى.
دچراغ لاندې تياره وي.
د چرګې د نيولو دى.
د چا د سترګو نه خلى نه اوباسي .
د چل ياري سر ته نه رسيږي .
د دروا غو مزل لنډ وي .
د درمند څخه يې ناپاكي زياته ده .
دوه به سره جوړ شي ددريم به مخ تور شي .
د ډېـــــروامسا/لكړه ديو ګېــــــډۍ .
د ځوانۍ يوه نيشه وي هسې نه چې همېشه وي .
د ځنګل اور دى زياتيږي او كميږي نه .
د دو و پښو سړى دى.
د دښمن په خوږ و خبرو مه تېـــــروزه.
د زمري زړه لري .
د ړندو د لاس امساً ده .
د ړندو سترګو اوښكه ده.
دزمري ورور دى .
د زمري په خوله كې هم خير غواړه .
د زورو رمخې ته مه ځه او د آس شا ته مه ځه.
د سپي په غپ غپ پسې مه د اور په دود پـــــه سې ځه.
د يو سړي پر ګېـډه/ نس مار تېرشو ويل يې چې په دې مي خوا نه ده بده چي دابې لاره نه شي.
د سترګو اغزى دى .
د زرو قدرد زرګر سره وي .
د سرو زرو پېزوانه ګړنګ زوړ كړي .
د شګو نه پړي نه غښتل كيږي .
دسپي مرګ د ګېــــدړي اختر دى.
دسلو كالو موړ په سلو كالو كې نه خواريږي .

راټـولـوونـكـى: رحمت الله سروري

د سلو كالو وړي په سلو كالو كې هم نه مړيږي .
د رستم نوم د رستم نه ښه دی .
د ښار نه ز ه راغلم د نرخ خبري ته كوې .
د سوال د ژوند نه مرګ ښه دی .
د سيند نه مړي چا ګټلي.
د سلو قصابانو ونډۍ ده.
د سيوري ونه خور ما نه نيسي .
د سوال په اوبو ژرنده نه ګرځي .
د سورناچي يو پف دی.
د سپي سترګې يې دي .
د شعر معنا د شاعر په خيټه كې ده .
د شن ه آسمان ډلۍ /ژلۍ ده .
د سر وينښتان يې په كې سپين شول.
د نغري په غاړه جنت غواړي .
د سترخوان ته يې مه ګوره ، اوچولې/تندي ته يې ګوره .
د شا د كتلو په ځاي مخكې ګوره .
د شپې هر سړی ډاريږي څوك حال وايي او څوك يې نه وايې.
د پسرلي بارا ن دی .
د قارون دنيا ده .
دا د پټي سر دی پټی وروسته سورور دی.
د شيطان په خره سور دی .
د پيښې نه تېښته نشته.
د رنګريز خُـــــــم دی.
د حريص كاسه چپه وي خوله يـــــــــي سپـــېـــره وي.
د ژبې پر هـــــار/زخـم نه جوړيږي.
د غوا دپښو وتی دی.
د غوړيو زور د قرتو نه او باسي.
د غو ړلستوني يـــــــــــــــار دی.
د ښو نه ښه پيدا كيږي د بدو نه بد.

راټـولـوونـكـی: رحمت الله سروري

د تــنــګيÖRE/ بيزو نه وه دروپي ځنځير يې وتښتاوه.
د سپي خوی يې دی.
د سپي سر يې ترې جوړ کړ.
د سلو شاباسو نه يوه روپۍ ښه ده.
د غلې بلا نه وېره په کا رده
د سپي په کودي کې يې ور کړه!
د غم تغر يې غوړولی دی
د بې اتفاقه خلکو جمع کول دچـنـګـښـو تول دی.
د خپل خره تيز پيژنم!
د غره هوسۍ د غره تازيان نيسي.
د غله لاس چې کور کې ولګيد برکت يې والوت،
د غله مور په غلا ژاړي.
د غريب سړي د خيرات په ورځ غوا ورکه وي.
د شملې ګل دی.
د څاځکونه سيلاب جوړيږي.
د غنمو له رويه ځوز هم اوبه کيږي.
د فيل په غوږ کي ويده دي.
د صبر ميوه خوږه ده.
د قربان نه دې معلوميږي چې چرسي يې.
د کبر کاسه نسکوره د.
د کور ګټه د لاهور ګټه ده.
د کور په کار د کور ميرمن ښه پوهيږي.

د تورې پرهار به جوړ شي د ژبې پرهار نه جوړيږي.
دوست به دې وژړوي دښمن به دې وخندوي.
د خوار به په حلوا کې غاښ وتلی وي.
د پردي کلي ناوي ښايسته وي.
د خره لغته ،ملنډه/مـسـخـره وي.
دروغ د ايمان زيان دي.

راټـولـوونـکـی: رحمت الله سروري

د زمري غار بې هډوکو نه وي.
د عقل ورۍ نشته د دنیا موړ.
د نوي منګي اوبه خوږې وي.
دوه غوايي چې ښکر په ښکر شي زیان یې د بوټو کاڼو وي.
دوه غوايي چې ښکر په ښک رشي ،زور یې د وښو پرخوا وي.
دریاب په لوټه نه خړیږي.

دریاب د سپي په خوله نه مرداریږي.
د غنمو له رویه زوز هم اوبه کیږي.
د صبر میوه خوږه وي.
د ډوډۍ په قدر وږي پوهیږي.
دوست هغه دی چې په سخته کې دې په ښه د رشي.
د لاس ګوتې په یوه اندازه نه دي.
د شپې پای سپېدې راختل دي.
د خره مړینه د سپي اختر وي.
دوستي په لیري والي کې ښه وي.
د ګور شپه په کور نه کیږي.
د نادیده چې لوروشوه په ښکلولو/مچولو یې مړه کړه!
د نر د زوی ژړا په ځانګو کې معلومه وي.
د زړه زړه ته لار وي.
د ډول ږغ لیرې ښه ځي.
د غله ځای په غره کې هم نه وي.
د مور په نس کې چا نه دي زده کړي.
د بل په ایمان سړی جنت ته نه ځي.
دنیا په امېد خوړه کیږي.
د بې عقلۍ علاج نشته.
د سیال خواړه پور دي یا پېغور.
دنن کار سبا ته مه پریږده.
د بل په لاس مار هم مه وژنه.

راټولوونکی: رحمت الله سروري

د لاس تنهـــاکي مرغلري دي .

..............................................................................................................

ډبره چې چېرې پرته وي هورې درنه وي . .
ډېر سفر وکړه چې خاموالی دې پوخ شي

ړوند له خدایه څه غواړي ، دوې سترګې
ړنده سترګه څه وينبه څـــه ويده !؟
رڼا سترګې پټوي
زه درنه پزه پرې کوم ، ته را نه پېزوان غواړې !؟

زه دي باغ نه وینم ته وایې تارو درغی!
زه دي پېری نه منم ، ته مُـــريدان نيسې .
زړه ښځه پـــه تګ معلومه وي
سپین ويل ترخـــه وي .
سور سپی هم د لېوه وروردی .

سترګې له سترګو شرمېږي.
ښځه د کور ډېوه ده .
ښـــه خوی به دې سلطان کړي بد خوی به دې په ځان پورې حيران کړي
ښځې چا مرکو ته نـــه دي ببـــولې .
ښـــځـــه د ځـــان پـــه خوښـــه کـــه د جـهـــان ؟

غوا توره شيدې يي سپـــيني .
غر پر غره نه ورځي انسان پر انسان ورځي
غوټه چې پـــه لاس خلاصېږي غـــاښ ته يې څـــه حاجـــت دی.

راټـولـوونـکـی: رحمت الله سروري

غوښه چې دې د پیشي په خوله ورکړه ، نو یې ساتې له چا ؟

که تا ویل چې زه یم او ما ویل چې زه یم ، نه به ته یې نه به زه یم ،اوکه تا ویل چې ته یې او ما ویل چې ته یې ،هم به زه یم هم به ته یې!
که روپۍ وړه ده خو په تول پوره ده .
که ولي نه یم خالي هم نه یم .
کله کله د سړي په بې خیرۍ کې هم خیر وي.
که برج نه شو کدانه خو به شي .
کوم کار چې په صلاح وي ورکه یې بلا وي.
کوتره له کوترې سره او باز له بازه سره .
که نن پر ما سبا پر تا!
که غواړې چې رسوا نه شې ، له ټولنې سره همرنګه شه .
که غل نه تښتي ، مل دې وتښتي.
کارګه د زرکې تګ کاوه خپل یې هېر شو.
که غرلوړ دی پر س رلار لري .
که شپه تیاره ده خو منۍ/سبـب په شمار دي.
کله ،کله له ړانده هم لکړه لوېږي .
که جنګ نه کوې لکۍ خو ببره نیسه . که جنګ مه کوې لـو ډبـره اخـلـه !
کوږ بار تر منـــزله نه رسېږي .
ګُلاله وکړه ،خپله سیاله وکړه!

ګُــــــل بــې خـــاره نـــه وي .
کــــــیــــــــله لـــه خـــپــله کېږي .

راټـولـوونـکـی: رحمت الله سروري

له غرونو لوېدلي به پورته شي ،خو له زړونو لوېدلي به پورته نــه شي!
له کلي ووزه خو له نرخه يې مه وزه .
له قامه سره يې خوره ، له قامه سره مره.
لمر پـه دوو ګوتو نه پټېږي .
له بارانه تښتېدم ،تر ناوې لاندې مې شپه سوه .
لوى مې کړې لويې مه راکوې .
له پخلا شوي دښمنه ځان ساته .
لـعـل په ايرو کې نه پټېږي .
له لوږې مړ شه خو د سوال خواړه مه خوره .
له آزاره چا بازار نه دی موندلی !
له يوه لاسه ټک نه خېژي .
له وچو سره لانده هم سوځي .
مېړه مړ کړه ، خو مېړانه يې مه وژنه!
مېړونه غرونه دي ، ښځې يې اړمونه دي .
مرغان هم هغه سره ګرځي چې بڼې يې سره لګېږي.
مرغۍ پـــه خپلو بڼو ښه ښکارېږي .
مينه ړنده ده .
مېلمه د خدای (ج) دوست وي.
مړی چې خدای شرموي ، پر تخته يې معامله ګډه وډه شي .
مار خوړلی له تور پړي/رســۍ هم وېرېږي.
مار تـه پـه لستوڼي کې ځای مه ورکوه .

نړۍ ليدونکي ډېر درواغ وايي.

وزه (بزه) چې بام ته وخېژي، لېوه ته هم ښکنځل کوي.

راټـولـوونـکـی: رحمت الله سروري

وزه په خپل ښکر نه درنیږي.

وربنداري په لږورو ساتلي وي

وروستۍ ورځ نامرده وي.

وروركه د ورور له كوره خپه وځي ، خو په هدېره كې ورسره يو ځاى د پلار پر قبر شناختې دروي.

مال خپل ساته ، همسايه غل مه نيسه .

هرګردى شى غوز/مغز نه لـري .

هر كاره سړى هيڅ كاره دى.

هيڅوک هم نه وايي چې زما د غړكې خوند بد دى.

هغه څراغ چې دكور لپاره روا دى ، د جومات لپاره ناروا دى.

يو بام دوې هواوې!

يوه بلا بلي بلا ته وايي چې بو !

يو به مړ نه شي بل به موړ نه شي .

يو ځان شرموي بل كام شرموي .

يـــو ښار دوه نرخه !

يو لاس دي خداى و بل ته نه اړباسي .

ياد مې ته كړه موړ به مي خداى كړي .

يار تر كوڅه تېر كړه رنګ يې هېر كړه .

يا نه ځم يا منډي وهم !

يتيم ته يو نس مستې هم پسرلى دى .

يار مېلې لره ، دوست تنګۍ لره !

يـــــــارانــه پـتـه جـــالـه !